# نه هېرېدونکی سړی قاضي عطاء الله خان
# د پښتو نثر لیکونکی او مؤرخ

قاضي عطاء الله د مردان د پښتنو د قاضیانو د یوې درنې کورنۍ پوه رکن و، ده په حقوقو او قانون کي خپل تحصیلات د هند په مدرسو کي پای ته رسولي او په پېښور کې د قانوني وکیل په ډول شهرت لاره.

د قاضي د سیرت دوهم اړخ دا و، چي د آزادۍ د لاري یو تکړه سپاهي هم و او د خدایي خدمتګارانو په ملي تحریک کې د یوه مجاهد رهنما په ډول برخه درلوده او ډېر کلونه یې د آزادۍ غوښتلو په لاره کي په زندان کي تېر کړي وه او بیا په ملي کابینو کي د مرحوم ډاکټر خان سره د وزیر په ډول په کار کي شامل و، او له (۱۹۳۱ م) څخه بیا تر (۱۹۵۱ م) پوري پوره شل کاله د سیاست په میدان کي یا وزیر و یا محبوس یا د عمل پر ډګر یو فداکار سپاهي.

دلته زما مقصد د قاضي د سیرت او شخصیت یو دریم اړخ دئ چي مړرخ هم و او د پښتو یو تکړه لیکوال و.

دی څو کاله مخکي له موږه په ابدي بېلتون جلا سوی دئ، مګر کله چي د پښتو ادب پر وروستني سیر او تحول باندي خبري کېږي نو قاضي عطاء الله څوك هېرولای نه سي.

د پرنګیانو د تسلط دوره په هند کي ختمېدونکې وه او د هغه هیواد د آزادۍ غوښتونکو د ځان دخیل جهاد آخرني پړاو ته رسولی و چي ما د لاهور د یوه کتابفروش په دوکان کي قاضي عطاء الله خان ولیدی.

د ده ادبي ذوق او د پښتو سره مینه او د پښتنو په تاریخ کي د تلاښ او تحقیق شوق د ده په خوږو او جالبو مرکو کي ښکارېدی، ده ویل :-

په انګرېزي کي چي کوم کتابونه د پښتنو پر تاریخ لیکل سوي دي، اکثر یې ما میندلي او کتلي دي، مګر افسوس زه په عربي یا فارسي کي مستقیمه مطالعه نه لرم او دا کار باید تا غوندي زلمي وکړي، چي د خپل ولس تاریخ بشپړ کاندي.

قاضي عطاء الله خان د خپل اوږده حبس په زمانو کي په ډېر همت او ادبي او علمي لیاقت یو مهم کار تر سره کړ چي د پښتنو تاریخ یې په پښتو ژبه په څلورو جلدو کي وکیښ او بیا د ښاغلي عبدالخالق خلیق په همت د اداره اشاعت له خوا په ښه ډول طبع او خپور سو.

دا کتاب (۱۵۰۰) مخه کېږي او د اعلیحضرت احمدشاه بابا له عصره د امیر عبدالرحمن خان تر جلوسه پوري تقریباً د (۱۳۰) کالو حوادث او د پښتنو د ملي جهاد مفصل داستان دئ، چي د انګرېزي مستندو کتابونو په حواله په ډېره ښه توګه لیکل سوی دئ.

قاضي عطاء الله مرحوم په تاریخ نویسۍ کي د یوه بېطرفه اما دقیق او نقاد لیکوال په ډول ځانته یو منځنۍ لاره غوره کړېده. دی لکه ځیني پردي او مغرض لیکونکي ټول وقایع د یوه خاص غرض په سترګه نه مطالعه کوي او هرومرو انتقاد نه کوي اما د واقعو ځیني د ویلو وړ اړخونه هم نه پرېږدي او دا یې عقیده ده چي پښتانه باید له خپله تاریخه عبرت هم واخلي.

مثلاً د لومړي ټوك په ۸٤ مخ كي دى د اعليحضرت شاه اشرف هوتك د سلطنت پر افسوسناكو واقعو باندي داسي ليكي :-

"د پښتنو د قوم يو زوړ عيب دا دئ چي د ملكونو اخيستلو او فتح كولو نه پس او په دښمن باندي د مكمل بري حاصلولو نه پس په دوى كي خپله پرې جنبي اختلاف او بې اتفاقي راپيدا شي، ټول عمر پښتنو هم په دې وجه بيا د شكست خورده دښمن نه هم په دې شان ماتې خوړلې ده، د كاميابۍ نه پس د هر يو دا كوښښ اوسېدلى دئ چي دى مشر شي او بيا هر كله چي دى مشر منتخب شوى دى نو د هغه نورو ملګرو د هغه د راغورځولو سازشونه كړي دي، هم د دې زوړ خوى په مطابق امان الله چي د مير اشرف د فوځ او د ميرمحمود د لښكر يو ډېر بهادر قابل او با رسوخ جرنيل و هغه د مير اشرف په انتخاب باندي څه موده پس ناراضګي ظاهره كړه او شهزاده طهماسب سره يې پر مير اشرف باندي د حملې كولو په غرض خط اوكتابت شروع كړو".

مرحوم قاضي دردمن زړه لري، دى د خپل كهول او خپل اولس تاريخ پخپله ژبه ليكي، خپل قوم ته د دوى تاريخي كمزورۍ او عيوب ورښيي او په صريحه لهجه هغه څه وايي چي د يوه خواخوږي ناصح سره ښايي.

د كتاب په سريزه كي د اسلافو لوړو كارنامو ته اشاره كوي او هغه د افتخار وړ ګڼي، او داسي وايي :-

"يو قام چي د پريوتۍ حالت نه د پورته كېدو په طرف روان شوى دى نو د پخوانو تاريخ په دې كي ډېر زيات مدد كړى دى. په دنيا كي هر يو قام صرف د خپلو مشرانو د ښو كارنامو نه عبرت او سبق اخلي او مخ تګ ته تيارېږي. د تاريخ د مطالعې نه ثابته ده چي د نورو قامونو په شان، زموږ د پښتون تاريخ هم ډېر شاندار دى، خصوصاً د قومي آزادۍ دپاره چي پښتنو كومي قربانۍ كړي دي د غير ملكي حكومتونو مقابلې چي څومره پښتون كړي دي، دا كه د نورو قامونو نه زياتي نه وي، كمي خو هرګز نه دي".

د دغه شريف احساسه سره كوم وخت چي د شهزاده كامران ناوړه اعمال او د مشهور وزير فتح خان د وژلو صحنه پخپل تاريخ كي تصوير كوي، نو په ډېره بې طرفي او زړه سوي داسي وايي :-

"د دې نه پس د افغانستان په ټول ملك كي ... دا قسم خانه جنګي او بغاوتونه را دوساره شول، چي د هغوى بيانول د يو غيرتي قوم دپاره باعث ننګ و عار دي، او موږ به دومره اوږد تفصيل د هغې په دې موقع دننه وكړى، مګر ددې تاريخ اصل غرض به بالكل قرت شي، كه چيري موږ د پښتنو د زوال اسباب او د پښتنو د دنيا په قومونو كي د دليل كېدلو او د بې عزته كېدلو وجوهات په ښه شان سره اونه لټوو، د دې دپاره ناظرين په اميد دي، چي په ډېر صبر دا  دل انګېز داستان د زړه په سترګو اولولي، او بيا په دې فكر اوكړي، چي ولي اوس هم د پښتنو قوم همدې خانه جنګو، بې اتفاقو د حسد بغض او د پروجنبو په مرض مبتلا دئ؟ او همددې ناروا بيمارو د لاسه د هغوى په سياسي جسم باندي د نري رنځ يو داسي خينجى لګېدلى دى چي د هغه د بدن نه يې ټوله وينه وڅښله، او اوس هغه د ځكندن سلګو ته نژدې شوى دى.

هر كله چي د دنيا نورو قومونو خپلي كورنۍ وراني بالكل وداني كړي وي او پخپل خپل ملك كي تنظيم او يووالى پيدا كړو، او د ترقۍ بام ته ورسېدل، نو زموږ په قومي خصلت كي د اتلسمي صدۍ اخر تر دې وخته پوري هيڅ فرق رانغى، (ص ۲۳۱، ج ۲)".

د مرحوم قاضي د تاريخ نويسۍ لاري ډول تاسي له دغو اقتباساتو څخه معلومولاى سئ، اما د ده د نثر او پښتو ليكلو ښېګڼي ډېري د يادولو وړ دي، چي  د نثر سبك يې بالكل ساده، روان او عام فهمه و.

ده ټول خپل مطالب د حجرې په ژبه ليكلي دي، چي پښتانه ټوله په پوهېږي، د انګرېزي كتابو مطلبونه يې په داسي ژبه ترجمه كړي دي، چي د ترجمې رنګ نه پكښې ښكاري، او دا نو د يوه ماهر او استاد او ليكوال د ليك ښېګڼي دي چي موږ يې د مرحوم قاضي په څلور جلده تاريخ كي وينو او دى د پښتو يو تكړه نثر ليكونكى او

مؤرخ او قانوندان او د سیاست د میدان نامور شخصیت ګڼو، لوی څښتن دي د ده اروا ښاده ولري[1].

(۱) کندهار مجله، ۱۳٤٤ ش کال، د جدي او دلوګڼه، ۲ مخ.